څېړنيزه آزاده لاسرسی

# د جغتو ولسوالۍ د اوبو سرچینو مدیریت او کاري فرصتونه

پوهنیار سمیع الله عصمتي[1]، پوهاند محمد قاسم صدیقي[2]
[1]د طبیعي زېرمو مدیریت څانګه، د چاپېریال ساتنې پوهنځی، بادغیس پوهنتون، بادغیس، افغانستان
[2]د اوبو رسونې او چاپېریالي انجنیرۍ څانګه، د اوبو او چاپېریالي انجنیرۍ پوهنځی، کابل پولي تخنیک پوهنتون، کابل، افغانستان
*د مسئول لیکوال برېښنالیک: SamiullahEsmati2@gmail.com ، د اړیکې شمېره: ۰۹۳۷۹۴۶۳۰۶۷۹+

د مقالې تاریخچه:
د مقالې ترلاسه کولو نېټه: ۰۶/حمل/۱۴۰۵
د مقالې منلو نېټه: ۱۸/ثور/۱۴۰۵
د مقالې خپرولو نېټه: ۱۴/اسد/۱۴۰۵

ددې مقالې استناد:
عمتي، سمیع الله (۱۴۰۵). په ورزشي د جغتو ولسوالۍ د اوبو سرچینو مدیریت او کاري فرصتونه.
وردګ علمي څېړنیزه مجله ۵ (۱):۶۹-۹۰
دغه ژورنال د وردګ پوهنتون په چوکاټ کې د لوړو زدکړو وزارت د رسمي جواز پر اساس فعالیت کوي.

CC BY
وردګ پوهنتون علمي څېړنیز نشرات (۱۴۰۵).

زمونږ سره اړیکې: ۰۹۳۷۴۵۶۰۶۳۱۷+
ایمیل: rjd@wu.edu.af
آدرس: سیدآباد ولسوالۍ، توپ دښته میدان وردګ ولایت- افغانستان

## لنډیز

په جغتو ولسوالۍ کې د څښاک او کرنیزو اوبو کمښت ولس او بزګران له سختو اقتصادي او ټولنیزو ناخوالو او اندېښنو سره مخ کړي دي. په تاریخي توګه، جغتو د پام وړ اورښت - باران او واورې ترلاسه کولې؛ مګر د اقلیم بدلون له امله د اورښت بڼه بدله شوې، پر کوچنۍ اومتمرکزو سیمو ناڅاپي بارانونه او زورور سېلابونه ناورینونه را منځته کوي. له دې سربېره ددې سیمې د اوبو سرچینې او سیندونه موسمي او لنډمهاله دي، په ساړه موسمونو کې اوبه د ګټې اخیستنې پرته بهېږي خو د کرکیلې پر مهال سیندونه وچ وي. د دې څېړنې ارزښت دا دی چې دا ولسوالۍ د کرنې او مالدارۍ لپاره ډېره مساعده ده او زیاتره خلک د کرنې او څارویو سره تړلو دندو کې په کار بوخت دي. په ساړه موسم او دغه شان د سېلابونو پر مهال د اوبو کابو کول او د کرکیلې په موسم کې له ذخیره شویو اوبو ګټه اخیستل د کرنیز توکو او څارویو تولید د پام وړ لوړولی شي او دغه شان د کرنیز زنځیر ارزښت، چې د کرنیزو محصولاتو کرنه، تولید، پروسس-بسته بندي، لېږد، بازار موندنه او د توکو پلورل په کې شامل دي، پیاوړی کوي او د کارموندنې ډېر ښه فرصتونه را منځته کوي.

ددې څېړنې بنسټیزه موخه په دې ولسوالۍ کې د روانو- سطحي اوبو ارزول او د پایښت لرونکي اوبو مدیریت لپاره نوښتګرې تګلارې او ستراتیژۍ غوره کول دي.

**کلیدي کلیمې:** جغتو، سیندونه، سطحي اوبه، پایښت، اقلیم بدلون

WNNS عصمتي، سميع الله . (۱۴۰۵). د وردگ پوهنتون د طبيعي علومو څېړنيز ژورنال، ۵ (۱):۷۰-۸۸

څېړنيزه آزاده لاسرسی

# Jaghatu District Water Resources Management and Employment Opportunities

*Samiullah Esmati[1], Mohammad Qasim Seddiqy[2]

[1]Department of Natural Resources Management, Faculty of Environmental Science, Badghis University, Badghis, Afghanistan.

[2]Department of Water Supply and Environmental Engineering, Faculty of Water & Environmental Engineering, Kabul Polytechnic University, Kabul, Afghanistan.

*Corresponding author E-mail: Samiullahesmati2@gmail.com

**Article History:**
Received: 25.Mar.2026
Accepted: 07.May.2026
Online First:21. July.2026

**Citation:**
Esmati, S., et al. (2026). Analytical Study of the Social and Cultual Factors of Violence in Sports Competitions. Articles to WNNS. *Wardek J of Soc Sci* 2026; 5 (1):69-90

Email: rjd@wu.edu.af
This is an open access article under the Higher Education license

**Copyright**:© 2026 Published by Wardak Universty.

## Abstract

The lack of drinking and agricultural water in Jaghatu district has caused the people and farmers to face severe economic and social problems and worries. Historically, the Jaghatu received significant precipitation—rain and snow; But due to climate change, the pattern of precipitation has changed, sudden rains and heavy floods in small and concentrated areas are causing disasters. In addition, the water sources and rivers of this region are seasonal and temporary, in cold seasons the water flows without benefit, but the rivers become dry during the agricultural growing season. The value of this research is that this district is very suitable for agriculture and livestock and most people are busy working in agriculture and livestock related jobs. In the cold season and during floods managed the water, using water stored in the Agriculture season can significantly increase the production of agricultural products and livestock, and also strengthen the value of the agricultural chain, which includes the cultivation, production, processing and packaging of agricultural products, transportation, marketing and sale of goods, and creates many good employment opportunities. The basic purpose of this research is to evaluate the running-surface water in this district and to choose innovative policies and strategies for sustainable water management.

**Key words**: Jaghatu, rivers, surface water, sustainability, climate change

خېړنیزه آزاده لاسرسی

## شالید

اوبه د ژوند یوه مهمه ماده ده او پراختیایي او کرنیز پرمختګ په اوبو پورې اړه لري. په قران کریم کې الله متعال ۶۳ ځلې د اوبو یادونه کړې ده،" وجعلنا من الماء کل شیء حی" قران کریم ( الانبیا: ۳۰). ژباړه له اوبو نه مو هر ژوندی شی پیدا کړی دی." وانزلنا من السماء ماء بقدر فاسکنه فی الارض و انا علی ذهاب به لقدرون" قران کریم (المومنون: ۱۸). ژباړه موږ له اسمانه، له صحیح حساب سره سمې، په یوه ټاکلې اندازه اوبه اورولې او هغه مو په ځمکه کې تم کړې. موږ په باوري توګه د هغو (اوبو) په له منځه وړلو وس لرونکي یوو. نو له دې معلومیږي چې اوبه په ژوند او طبیعت کې مهم رول لري باید د مدیریت او ساتنې لپاره یې ځانګړې پاملرنه وکړو.

اوبه او کار د ژوند مهمه اړتیا ده، خو اقلیمي بدلونونو د اغېزو او د اوبو د هر اړخیز مدیریت نشتون له امله د هېواد په سیندونو کې د اوبو جریان کچه په پر له پسې له کمښت سره مخ ده او له امله یې ټولنې له ستونزو سره مخ کړې دي .

د اوبو سرچینو پراختیا، د اوبو د زیربناوو او برېښنا ستیشنونو جوړول د خلکو لپاره مستقیم کاري فرصتونو په را منځته کولو او د حکومت لپاره د عاید نووې سرچینې رامنځته کولو کې خورا اغېزمن دي. سربېره پردې، د اوبو سرچینو اغېزمن مدیریت د اقتصادي او ټولنیزه پرختګ لپاره مهم رول لوبوي (رشتین،۱۴۰۳).

په افغانستان کې د اوبو د کمښت اصلي عوامل په ټول کال کې داورښت نا انډول- وېش، د اوبو زېرمو ضعیف مدیریت او د اوبوذخیره کولو لپاره د هایدرولیکي جوړښتونو د ز ېربناوو نشتوالی دي. په افغانستان کې د اوبو سرچینو مدیریت له څو ننګونو سره مخ دی، چې د اقلیم بدلون یې تر ټولو مهم دی.

د اقلیم بدلون د باران بڼه او تودوخه بدله کړې او د اوبو کیفیت یې اغیزمن کړی دی. نورې ننګونې د ځمکې لاندې اوبو سرچینو په اړه محدود پوهاوی او د اوبو ضعیف مدیریت شامل دي. دا مسلې د لسیزو جګړو له امله نورې هم زیاتې شوې دي، کوم چې د افغانستان د اوبو سرچینو پراختیا، ساتنه او دوام لپاره ترټولو لوی خنډونه دي (Aawar et al, 2019).

څېړنیزه

آزاده لاسرسی

په وچو او نیمه وچو سیمو کې د اوبو سرچینو د پایښت لرونکي مدیریت لپاره تر ټولو ښه لاره د اوبو د سرچینو هر اړخیز مدیریت دی، ځکه د اوبو سرچینو هر اړخیز مدیریت کې چاپېریالي، ټولنیز، اقتصادي او نهادونو معیارونه د دولت له ستراتیژو – تګلارو سره همغږي کوي(طالشی، ۱۳۹۷). د افغانستان لپاره اوبه ډېرې مهمې دي نظر نورو طبیعی منابعو ته، د نفوس وده، ښاري پراختیا، کرنې او معادن استخراج ټول اوبو ته ضرورت لري پداسې حال کې چې هېواد اوبو سرچینې د اقلیم بدلون د اغېزو سره مخ دي (Yildiz, 2017). د وردګو ولایت جغتو ولسوالی کې د اوبو پایداره مدیریت ډېر ارزښت لري ځکه ډېر خلک په کرنه او مالدارۍ بوخت دي، که دولت او سیمې اوسېدونکي دې ملي شتمنۍ ته پاملرنه وکړي کولای شي له ډېرو طبیعي پېښو څخه نوموړې سیمه خوندي همدارنګه ډېرو خلکو ته به د کارموندنې زمینه برابره شي.

## مېتود او څېړنې ساحه

د څېړنې ساحه د جغتو ولسوالی ده، چې په وردګو ولایت کې موقعیت لري، ۵۹۴ کیلومتره مربع ځمکه پوښي او د اوربښت اندازه یې شاوخوا ۲۶۹ ملي متره ته رسېږي. په ۱۹۹۰ زېږدېز کال کې نفوس ۱۵۹۸۱ تنه درلود، په ۱۴۰۲ کال کې ۶۲۰۰۰ تنه ته رسیدو او ډېر کلي لري. د جغتو ختیځ ته سید آباد، شمال ته چک، شمال لوېدیځ او لوېدیځ ته ناور او جنوب او جنوب لوېدیځ ته رشیدانو او جنوب ختیځ ته خواجه عمري ولسوالیو سره ګډه پوله لري. د څېړنې سیمه په لومړي شکل په نقشه کې ښودل شوې ده.




۱ شکل: د جغتو ولسوالۍ هایدرولوژیکي نقشه

## مېتود

دا څېړنه د کیفي، تحلیلي او ساحوي مېتود پر مټ تر سره شوې ده، همدارنګه د اوبو او انرژي وزارت د هایدرومیتورولوژیکي ستیشنونو له ډیټا او معلوماتو څخه ګټه اخیستې. د ENVE سافټویر او جغرافیایي معلوماتي سیستم (GIS) څخه هم ګټه اخیستل شوې ده.

**جغتو ولسوالۍ سطحي او ځمکې لاندې اوبه:** د جغتو ولسوالۍ کلني اورښت ډیټا چې په باریکاب، بند پورته او بند لاندې ستیشنونو کې ثبت شوی چې د ۲۰۲۱ څخه تر ۲۰۲۴ کلونو ترمنځ په منځني ډول (۲۶۹) ملي متره ښودل شوی دی، چې په دې وروستیو کې د اورښت په بڼه او موسم کې خورا ډېر بدلون راغلی دی چې په لاندې دویم ګراف کې ښودل شوی دی.

د جغتو سیندونه موسمي او لنډ مهاله دي، په ساړه موسمونو کې بهېږي خو د کرکیلې پر مهال وچ وي. سطحي اوبه په ساړه موسم کې په ارزانه او اسانه ډول په ډنډونو کې راټولېدای او یا هم د لویو جاذبو څاه ګانو له لارې د مځکې لاندې تل ته لېږدول او بیا په ګرم موسم او وچکالۍ کې له زېرمه شویو اوبو د څښاک او کرکیلې لپاره کارولی شوو.

موږ د اوبو د ښه مدیریت لپاره د نورو هېوادونو له غوره تجربو هم ګټه اخیستلی شوو. د بېلګې په توګه، د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان په یمن کې د ځمکې لاندې زېرمو لپاره نوښتګرې ستراتېژۍ غوره کړې دي. اضافي سطحي او باراني اوبه د ډنډونو اوڅاه ګانو له لارې د ځمکې لاندې زېرمو ته لېږدوي او بیا له ریچارج- تغذیه شویو زېرمو په ګرم موسم کې د څښاک او کرکیلې لپاره ګټه اخلي.

ددې نوښت له پلي کېدو وړاندې سیمه ایزو خلکو او بزګرانو د اوبو د ویش پر سر په خپل منځې شخړې او دعوې کولې. مګر د موسمي او سیلابي اوبو پر مهارولو او د ځمکې لاندې لېږدول او تغذیه کولو سره د بزګرانو خپل منځي شخړې هم کابو شوې. بزګران د سولر په وسیلې سره د ځمکې لاندې اوبو په څښاک او کرنې کې ګټه اخلي. دغه د پام وړ نوښت د چین په څېر پرمختللو هېوادونو هم پلې کړې دي.

دوی په ساړه موسمونو کې سطحي اوبه په ډنډونو او د شګو په بندونو کې راټولوي او په ګرم موسم کې ترې ګټه اخلي. دغه شان، دغه هېوادونه د موسمي سیندونو او سېلابي لارو په اوږدو کې د جاذبو څاه ګان یوه لړۍ را منځته کړې ده. ددې نوښتونو له برکته د طوفاني اوبو یو لوی مقدار د ځمکې لاندې لېږدول کېږي، د زورور سېلابونو ګواښونه کموي او د ځمکو لاندې اوبو -زېرمو کچه د پام وړ لوړوي . د افغانسان اقلیم وچ دی د ځمکې لاندې اوبو زېرمه کول، اوبه له تبخیر څخه ژغوري .

په لاندې نقشه کې موسمي سیندونه او هغه ساحې چې د جذبي څاګانې جوړول او ډنډونو لپاره په دوامداره توګه ګټه اخیستل کېدی شي، ښودل شوې دي.




۲. شکل: د جغتو ولسوالی د خاورې نقشه




۳. شکل: د جغتو ولسوالی د ځمکې لاندې اوبو سطحه (وردګو ولایت سیندیزه حوزه ریاست، ۱۴۰۴)

څېړنیزه | آزاده لاسرسی

۱ شکل کې د جغتو ولسوالی د ځمکې لاندې اوبو سطحه ښودل شوې چې په روښانه ډول معلومیږي چې دنوموړې ولسوالی شرقي برخه او ولسوالی شاوخوا پرته د هغو ساحاتو څخه چې د سیند غاړو څخه نیږدې موقعیت لري تر لاغری کلي پورې د ځمکې لاندې اوبو سطحه ټیټه ده نظر د باریکاب درې او آبطله کلي ته، د همدې معلوماتو له مخې باید په ټوله ولسوالی په هغو ځایونو کې چې دوامداره اوبه نلري باید د ځمکې لاندې اوبو تغذیه لپاره جذبي څاګانې جوړې کړو تر څو د ځمکې لاندې اوبو سطحې د ټیټوالي څخه مخنیوی وشي. که چیرې د ځمکې لاندې اوبو تغذیه نشي ممکن په لنډو کلونو کې د دې ولسوالی زیات اوسېدونګي پاک اوبو ته لاس رسی ونلري.

ډاکتر حسین ګادین: په نړی کې یمن هغه هېواد دی چې لږ اوبه لري، چې د اوبو هر څاڅکي ارزښت لري. له بده مرغه د ځمکې لاندې اوبو ایستل اوس مهال د تغذیه کولو او بیا چارج کېدو څخه ډېر دی، چې د راتلونکی لپاره یې اندېښنې را ټوکولی دي. د کرنې سکتور د ځمکې لاندې سرچینو د پام وړ فشار راوړی، چې د شته اوبو لویه برخه مصرفوي. دا هېواد د باران اوبو د ټولولو لپاره اغېزمنه زیربناوې نلري ترڅو ځمکې لاندې اوبه ریچارج کړي. اوبه چې بحر ته جریان لري باید په کرنې او د ځمکې لاندې اوبو د تغذیه لپاره استفاده شي. په ورته ډول، هغه اوبه چې زموږ په هېواد کې ګاونډیو هېوادونو ته بهیږي باید په ډنډونو، او ځمکې لاندې زېرمه او بیا په کرنه، صنعت او نورو برخو کې ترې ګټه واخیستل شي.

په یمن کې د اقلیم بدلون او د نفوس چټګه وده د اوبو په سرچینو فشار زیات کړی دی، او د اوبو کمښت د کرنیز تولید د کمښتې په معنی دی، چې په پایله کې د خوړو خوندیتوب سبب کیږي. په یمن کې ۱۴.۵ میلیون خلک پاکو اوبو ته لاسرسی نلري، دا حالت د وګړي له ګواښ سره مخ کړي. د یمن په ټولو برخو کې د ځمکې لاندې اوبو ایستلو اندازه ډېره زیاته ده، که د اوبو کلني اندازې ته وکتل شي لیدل کیږي چې د ځمکې لاندې اوبو سطحه له ۲ څخه تر ۶ مترو پورې ښکته شوې ده، له امله یې د اوبو بیه لوړه شوې ده.

ددې ستونزې د هواري په موخه، دغه هېواد کې کې د باران اوبو په ډنډونو کې را غونډیږي او بیا د جاذبو څاګانو له لارې ځمکې لاندې زېرمه کیږي او بیا ور څنې په اوبو لګولو او ښناک کې ګټه اخیستل کیږي.

پدې وروستیو کلونو کې د یمن اوربښت د اقلیمي بدلون بدلون له امله زیات بدلون راغلی دی، سخت وچکالي او سېلابونه تجربه کړي کوم چې د اقلیم بدلون شدت روښانه کوي. یمن کې د کلنی د خوړو اوبو سرچینې د هر شخص لپاره ۸۶ متر مکعب اټکل شوي، پداسې حال کې چې د هر شخص ته ۵۰۰ متر مکعب څخه لږ اوبه ور سیږي مطلق د اوبو کموالی ویل کیږي. د یمن هېواد د ځمکې لاندې اوبه دوه چنده د هغو په اندازه چې جذبیږي ایستل کیږي. د مثال په ډول د صنعا په حوزه کې د ۱۳۰۰۰ څاګانې شته چې د کورونو، صنعت او څارویو لپاره استفاده کوي او ورځ تر بلې د ځمکې لاندې اوبه ژورې کیږي. د دې حوزې د څاګانو منځنې ژوروالی ۴۰۰ متره دی او بعضو ساحو کې ژوروالی تر ۷۰۰ متره ته رسیدلی دی. د اوبو کمښت د ټولنو په ټولنیز او قتصادي اړیکو اغېز کوي څکه یوه څېړنې چې د صنعا په پوهنتون کې شوې موندنې ښیی چې په یمن کې ۸۰-۷۰ سلنې شخړې د اوبو څخه دي. د صنعا په حوزه کې د FAO له خوا د اوبو سرچینو د مؤثر مدیریت لپاره IWRM تګلاره پلې کړې، ترڅو د ځمکې لاندې اوبو کمښت مخه ونیسي.

بل خوا د جاپان په ملاتړ د صنعا په حوزه کې د FAO له خوا کوچنیو فاضلابو اوبو تصفیه تاسیسات جوړ کړي ترڅو د کرنې لپاره خوندي اوبه برابر کړي.. د خوړو نړۍ وال سازمان د ښکېلتیا له امله د اقلیم بدلون د اغیزو پر وړاندې د محلي ټولنو وړتیا د پام وړ زیاته شوې او کولی شي چې د د اوبو پر سر شخړې کمې او د آفتونو د ګواښ کابو کړي. په یمن کې د اوبو نړیوالې ورځې نمانځل د دې لپاره دي تر څو و ارزوي چې څه شوي او څه لا پاتې دي. دا څرګنده ده چې د یمن د اوبو وضعیت ګواښوونکی دی، مګر اوسنی هڅې د پام وړ پرمختګ دی. موږ هم د یمن او نورو هېوادونو له مثبتو او غوره تجربو زده کړه کولی شوو!

### جغتو ولسوالۍ اوبو سرچینې

د جغتو ولسوالی د اوبو سرچینې باران، واوره، چینې، کا رېزونو او د ځمکې لاندې اوبه دي. په ولسوالۍ کې درې اصلي سیندونه شتون لري: یو سیند له مرکزي سیمې څخه تېرېږي ، بل له لوېدیځې سیمې څخه او د رېیم سیند هم په لوېدیځه برخه کې موقعیت لري. دا سیندونه موسمي شکل لري، چې په عمده توګه د پسرلي په لومړیو، وروستیو او دوبي په لومړیو ورځو کې د واورو د ویلې کېدو له امله تغذیه کېږي. په دې سیندونه کې د اوبو اندازه د کال په اوږدو کې

توپیر لري. د پسرلي په لومړیو میاشتو کې د واورو د ویلې کېدو او باران د زیاتوالي له امله مست کېږي. د سیندونو مست کېدل د ترسباتو سبب کېږي او کرنیزې مځکې له منځه وړي. لکه خنګه چې دوبی تیرېږي، د اوبو کچه کمېږي، او د دوبي په نیمایې کې، ځینې سیندونه وچیږي، او د دوی د لارو په اوږدو کې په کلیو کې یوازې لږ مقدار اوبه پرېږدي. د دې سیندونو شتون د دوی په شاوخوا سیمو کې د شنو ځایونو ساتلو کې مرسته کړې.




۴. شکل: د جغتو ولسوالی هایدرولوژیکي نقشه




۵. شکل: د جغتو ولسوالی د ۲۰۱۵ او ۲۰۲۵ کلونو پوښښ ساحه

په ۵ ګڼه شکل کې د جغتو ولسوالی د ۲۰۱۵ او ۲۰۲۵ کلونو پوښښ ساحې Normalized Difference Vegetation Index (NDVI) ښودل شوی چې د سیندونو په مسیرونو کې نباتي

څېړنيزه

آزاده لاسرسی

پوښښ ډېر دی چې واټن په ډېرېدو سره نباتي پوښښ هم لږ شوی په ځانګړي ډول په ۲۰۲۵ کال کې ډېر لږ شوی چې عمده لامل يې د اوربښت کموالی وه.




۶. شکل: د جغتو ولسوالۍ د ۲۰۱۵ او ۲۰۲۵ کلونو د ځمکي سطحي تودوخې درجه

په ۶ ګڼه شکل کې د د جغتو ولسوالۍ د ۲۰۱۵ او ۲۰۲۵ کلونو د ځمکي سطحي تودوخي درجه (Land Surface Temperature) ښودل شوي، هغه سيمي چې نباتي پوښښ يې ډېر دی هلته د ځمکې تودوخې درجه ټيټه ده او برعکس د تودوخې درجه ور سره لوړه شوې، چې د شپږم او پنځم شکلونو له نقشو څخه د نباتي پوښښ ارزښت په روښانه ډول معلوميږي ځمکه کوم ځای چې نباتي پوښښ ډېر دی هلته د ځمکې سطحې تودوخې درجه ټيټه ده، له همدې امله بايد خلک بايد د نباتي پوښښ په ساتنه کې خپل مسؤليت سرته ور سوي ترڅو د چاپېريال خونديتوب لامل شي.

**جغتو ولسوالۍ اوبو لګولو سيستم**

جغتو ولسوالی کې اقليمي بدلون ډېر منفی اغېز کړئ دی څکه مخکنيو کلونو کې ډېر اوربښت د واورې او په دوامداره شکل وه مګر په خواشينی سره اوس ادا وضعيت ډېر زيات بدلون موندلی دی. همدې ستونزو لکه اقليمي بدلون، دوامداره وچکالي، د ځمکې لاندې اوبو څخه ډېره ګټه اخيستنه، د عامه پوهاوي کموالی د حل لپاره لازمه ده چې د اوبو لګولو سيستم عصري په ځانګړي ډول قطره يي او باراني شکل ته اړول څکه دا ډول اوبو لګول کولای شي لس چنده ځمکه د غرقابه په پرتله اوبه کړي، د لومړي ځل لپاره دا قطره يي او باراني سيستم دولت يا موسسات کولای شي چې په دې ولسوالی کې تطبيق کړي څکه تر اوسه په دې ولسوالی کې له

څېړنيزه
آزاده لاسرسی

دي سيستم سره خلک آشنايي نلري. بل اړخه قطره يي اوبو لګولو سيستم خانګه په غزني ولايت کې هم شته خلک کولای شي چې خپل باغونو کې له دې اوبو لګولو سره خپل حاصلات ډېر او اوبه لږ مصرف کړي.

## د جغتو ولسوالۍ تودوخې درجه

د جغتو ولسوالۍ تودوخې درجه په ۲۰۲۴ م کال کې چې په لاندې لومړي ګراف کې ښودل شوي ده چې اوړی نسبت ګرم او ژمی ډېر يخ وي، چې په د ۲۰۲۴ م کال د جون او جولای په مياشتو کې تودوخې درجه ۲۲ ساتنې ګرايد ته رسېدلې ده.




۱. ګراف: د جغتو ولسوالۍ د تودوخې درجه

## د جغتو ولسوالۍ اورښت په ۲۰۲۳ ميلادي کال




۲. ګراف: د ۲۰۲۳ م کال د جغتو ولسوالۍ اورښت

**Inflow**

باریکاب ستیشن ان فلو جریان په ۲۰۲۳ میلادي کال د اکتوبر میاشت څخه تر سپتمبر میاشت پورې چې مجموعي کلنی جریان ۵.۴ میلیون متر مکعب ښودل شوی البته په دې سیند کې د اوړې په موسوم کې اوبه ۸ سربندونه هم شته چې بېلابېلو کلیو ته د کرنې او څښلو اوبه برابر وي.




۳. ګراف: د باریکاب ستیشن ان فلو سطحي جریان

بند سلطان په پورته برخه د سراب ستیشن د ۲۰۲۳ میلادي کال د اکتوبر میاشت څخه تر سپتمبر میاشت پورې چې مجموعي کلنی جریان ۳٦.۹ میلیون متر مکعبه دی چې په لاندې څلورم ګراف کې ښودل شوی دی.




۴. ګراف: د سراب ستیشن سطحي جربان

**ذخیروي بندونه**

په جغتو ولسوالۍ کې د سلطان بند موقعیت لري چې دې بند څخه پرته بل لوی بند په دې ولسوالۍ کې نشته، چې د کاسې اوږدوالی ۲۰۰۰ متره او عرض یې ۵۰۰ متره چې مجموعي مساحت یې ۱۰۰ هکتاره دی، فعلي اوبو ظرفیت یې ۹ میلیون متر مکعبه دی چې اوس د اوبو او انرژي وزارت له خوا د ترمیم او دیوال د لوړوالي کارونه یې روان دي چې په تکمیلیدو سره به یې ظرفیت ۱۲ میلیون متر مکعبه ته ور سیږي. د سلطان بند ۵۰۰۰ کورونو او ۱۵۰۰۰ هکتاره ځمکو ته اوبه برابر وي البته دا ځمکې د غزني ولایت خواجه عمري ولسوالۍ او مرکز کې موقعیت لري (عصمتي، ۲۰۲۴).

**کاریزونه او چینې**

په جغتو ولسوالۍ کې ډېر کاریزونه او چینې شته دي، د ثبت شوو کاریزو شمیر یې ۵۳ دی چې په منځني ډول د اوبو جریان یې ۲.۸۸ لیتره پر ثانیه دی چې د ۵۳ کاریزونو مجموعي اوبه ۱۵۲.۶۴ لیتره پر ثانیه کیږي چې په کلني ډول د اوبو جریان یې ۴۷۴۷۷۱۴.۵۶ متر مکعبه کیږي. ثبت شوو چینو شمیر یې ۱۳دی. د اوبو منځنی جریان یې ۱.۱۰۰۸ لیتره پر ثانیه دی چې د ۱۳چینو مجموعي اوبه ۱۴.۳۱۰۴ لیتره پر ثانیه کیږي، چې کلني د اوبو جریان یې ۴۴۵۱۱۰.۶۸۱۶ متر مکعبه کیږي. نوموړي کاریزونه او چینې په مکمل ډول فعال، دایمي او خوږې اوبه لري MEW, (1403).

**Out flow:**

د سطان بند لاندې ستیشن کې دسطحي جریان اندازه د ۲۰۲۳ میلادي کال د اکتوبر څخه سپتمبر میاشتو پورې ۲۳ میلیون متر مکعبه دی چې په لاندې پنځم ګراف کې ښودل شوی دی.




۵. گراف: د سطان بند لاندې ستيشن کې دسطحي جريان اندازه د ۲۰۲۳ ميلادي

**اوبو دوامداره مديريت لپاره مهم اقدامات او سپارښتنې**

جغتو ولسوالی چې مجموعي مساحت يې ۵۹۴ کيلو متره مربع دی، چې کلنی اورښت يې ۲۹۵ ميلي متره دی، چې هر کال له دې ولسوالی څخه ميليونونو متر مکعبه اوبه پرته له گټې اخيستنې بهېږي او ځينې وختونو کې دخلکو د ځمکو د ويجاړتيا سبب هم کيږي په ځانگړي ډول د اوړي په موسم کې چې کله اورښت وشي زورور سېلابونه را منځته کوي، خلکو ته د ځاني او مالي تاوانونه اړوي. د دې ستونزو د حل لپاره لازمه ده چې په بېلوبېلو برخو کې د ميزان څخه تر ثور مياشت پورې د ځمکې لاندې اوبو تغذيه لپاره جذبي ځاگاني جوړې کړل شي په ځانگړي ډول په هغو ځايونو کې چې د اوبو جريان ونلري چې په ژمي موسم کې ددې ساحو لپاره ډېره ښه زمينه مساعده ده. په دې ولسوالی کې حد اقل د مني او ژمي په موسم کې په ويالو او خوړونو کې اوبه پرېږودل او په مسيرونو کې کوچيني ډنډونه جوړول ترڅو د ځمکې لاندې اوبه تغذيه شي. په ډنډونو کې د اوبو کابو کول او د جذبي ځاگانو له لارې د ځمکې لاندې تل ته لېږدول د يمن له غوره تجربو څخه دي او په کار ده چې زده کړه ترې وکړو:

بل حل لاره د قطره يي او باراني اوبو لگول دي چې بدبختانه تر اوسه په دې سيمه کې د غرقابي اوبو لگول مروج دي چې دې کار مروج لپاره لومړي دولت او غير دولتي سازمانونه بايد کار وکړي ترڅو خلک له دې اوبو لگولو سره بلديت پيدا کړي او د اوبو د مصرف مؤثريت په ښه

شکل درک کړي ترڅو د خلکو په کرنیزو محصولاتو کې زیاتولی راشي او ترڅنګ یې ډېرې ځمکې اوبه شي او د ځمکې لاندې اوبو دټیټوالي څخه مخنیوی وشي. کوم مؤسسات چې د کرنې او د خلکو د معیشت په ښوالي لپاره کار کوي بهتره ده چې په راتلونکي کلونو کې څو پروژې د باراني او قطره یې اوبو لګولو لپاره په مختلفو کلیو کې تطبیق کړي همدارنګه لازمه ده چې وردګو ولایت د کرنې ریاست هم دې برخې ته پاملرنه وکړي او دې ولسوالۍ اوسېدونګو د کرنې لپاره اغیزمن ګامونه واخلي ځکه تر اوسه د کرنې برخې په دې برخه کې هیڅ کار ندی کړی.

اوږد مهال لپاره لازمه ده چې د باریکاب درې په مناسب ځایونو، ګوربت درې او د دهنه په شاوخوا کې لوی بندونه او چک ډیمونه جوړ کړي ترڅو خلک پاکو اوبو ته لاس رسی پیدا کړي.

بل هر لاره د غرونو او دښتو کې د نباتي پوښښ له منځته تللو د مخنیوي لپاره لازم تدابیر په نظر کې ونیسي او خلکو ته د بدیل پیدا کولو لپاره لازمې هڅې وکړي په ځانګړي ډول د انرژي په برخه کې دا ولسوالۍ د لمریزې، بادي او اوبو انرژي ښه ظرفیت لري باید د ګټې اخیستنې لپاره یې له اړوند ارګانونو سره همغږي وشي ترڅو ددې ولسوالۍ د خلکو د انرژي ستونزه حل او د نباتي پوښښ( بوټو) ویجاړتیا مخنیوی وشي. همدارنګه هېوادوال، دولتي ادارې په ځانګړي ډول اوبو او انرژي او کرنې وزارتونه او نړۍ وال کومک کوونکي باید د اقلیمي بدلونونو ناوړه اغېزو په راټیټولو او اوبو زیرمو مدیریت کولو کې په ګډه کار وکړي چې هېوادوال د ناوړه سېلابونو له زیانونو څخه وژغورل شي او خلک په پایداره ډول پاکو اوبو ته لاس رسی ولري.

د اقلیم بدلون د اغېزو پر وړاندې د ټولنو پیاوړتیا ترڅو د ناورینونو پر وړاندې چټک غبرګون وښیې تر ټولو عمده ګام دی. پیاوړې او همغږې ټولنې د اقلیم بدلون او ناورینونو په اغېزمنه توګه کابو کولی شي. مګر تر څو چې محلي خلک او ټولنې په خپلو ځانونو او وړتیاوو کې بدلون را نه ولي، مثبت بدلون د انځیر ګل دی او دغسې د اوبو پایښت لرونکي مدیریت هم شونی نه دی!

**پایله**

د پایښت لرونکي اوبو مدیریت لپاره اړینه ده چې د ساړه موسم اوبه په ډنډونو او د جاذبو څاګانو له لارې د ځمکې لاندې طبقو- پوړونو کې کابو او زېرمه شي او د یمن او نورو هېوادونو په څېر د کرکیلې په موسم کې له ذخیره شوې اوبو په کرنه او نورو برخو کې ګټه واخیستل شي. له غورو تجربو ګټه اخیستل د کرنیز زنځېر ارزښت، چې په دې زنځېر کې د کرنیزو محصولات کرنه، تولید، پروسس-بسته بندي، لېږد، بازار موندنه او د توکو پلورل شامل دي، پیاوړی کوي او د کارموندنې ډېر په زړه پورې فرصتونه را منځته کوي.

په منځنۍ ډول یواځې د باریکاب او سراب سټیشنونو څخه د سلطان بند ته ۲۸ میلیون متره اوبه بهیږي. د جغتو سیمه په کال کې شاوخوا ۲۹۵ ملي متره باران تر لاسه کوي. په هر صورت، ددې اورښت په نوعیت کې د پام وړ بدلون موندلی دی: واوره چې یو وخت ډېر زیاته اورېدو، اوس کمه شوې ده. د دې سیمې خلکو د اوبو لګولو د غرقابې په شکل دی چې تر دې مهاله قطره یې او باراني اوبو لګولو سیستم ندي پلي شوی، د ځمکې لاندې اوبو سطحه یې ورځ تر بلې ښکته کیږي او د خلکو اتکاه هم د ځمکې لاندې اوبو باندې ډېره شوې ده. د ډیټا کموالی، د څېړنې لپاره مالي امکاناتو نشتون او همدارنګه په ساحه کې د پروژې تطبیق لپاره مالي منابع نشتون تر ټولو لویې ستونزې وه. په راتلونکی کې غواړم دې پروژو د پلې کېدو او قطره یې اوبو لګولو سیستمو باندې څېړنه وکړم. که چیرې دا پروژې په دې سیمه کې پلې شي کولای شي چې د اوبه په پایدار مدیریت او د خلکو په ژوند کې ښه والی راشي او ترځنګ به مو زیاتې اوبه ساتلې او راتلونکي نسل لپاره به مو خپل مسؤلیت په ښه ډول سرته رسولی وي.

**اخځلیکونه**

قران کریم (الانبیا: ۳۰).

قران کریم (المومنون: ۱۸).

اداره ملی محیط زیست. (۲۰۲۳). ستراتیژی ملی تنوع حیات و پلان عمل آن برای افغانستان.

اقرار، م. ن. (۱۳۹۹). منابع سیاست و ساختار نهادهای آبی افغانستان. انتشارات نویسا.

د اوبو او انرژي وزارت، د کابل عمومي سیندیزه حوزه.(۱۴۰۴).

څېړنيزه آزاده لاسرسی

د چاپېريال ساتنې ملي اداره. (۱۳۹۶). د افغانستان د اقليمي بدلون دويم ملي راپور.

د وردګو ولایت سیندیزه حوزه. (۱۴۰۴).

رشتين، ص. صافي، ع. (۱۴۰۳). د اوبو مديريت او کاري فرصتونه. د طبيعی علومو علمي - څېړنيزه مجله، ۴ ګڼه، ۷۹ صفحه. کابل پوهنتون.

صافی، ل. (۱۴۰۰). جغرافیای منابع آب افغانستان و جایگاه آن در منطقه هایدرو جیو گرافی و هایدرو پولیتیک. انتشارات جهان اسلام.

طالشی، م. کفاش،ح. (۱۳۹۷). تدوین و اعتبار سنجی معیارهای بنیادین مدیریت یکپارچه منابع آب در سکونتگاه های روستایی نواحی خشک و نیمه خشک، مطالعه موردی: ناحیه بجستان در جنوب خراسان رضوی. کاوش های جغرافیایی مناطق بیابانی، سال ششم، شماره دوم، پاییز و زمستان.

Aawar, T. Khare, D. (2019). Water Resource Planning and management in Afghanistan/issues and challenges. Conference paper. Research Gate. https://www.resreachgate.net/publication/332466709.

Esmati, S. (2024). The Impact of Climate Change on Sultan Dam. Nangarhar University International Journal of Biosciences, 335, 2957-9988. https://doi.org/10.70436/nuijb.v3i02.232

Yildiz, D. (2017). Afghanistan's Trans boundary Rivers and Regional Security.World water Diplomacy & Science news- 2017-10006. Hidropolitikakademi.org

Dr.Hussein Gadain. Being the Change in yemen improving integrated water Resources management for food security. Yemen.un.org

Safi, A. G., & Rasikh, K. (2024). Climate change Effects on the Rivers of Afghanistan. **Nangarhar University International Journal of Biosciences, 313**, 2957-9988. *https://doi.org/10.70436/nuijb.v3i02.226*

Seelen, L.M.S., Flaim, G., Jennings, E., & Domis, L.N. (2019). Saving water for the future pubic awareness of water usage and water quality. Journal of Environmental, 242, 246-257. https://doi.org/10.1016/j.jenvman.04.047.

Schneider, C., Laize, C. R., Acreman, M. C., & Florke, M. (2013). How will climate change modify river flow regimes in Europe. *Hydrological Sciences Journal, 58*(1), 199–214. https://doi.org/10.1080/02626667.2012.754550.

Flood-Based Livelihoods Network Yemen. Groundwater Recharge and Saving in Spate Irrigation Areas Case study, Wadi Zabid. Flood-Based livelihoods Network

Tan, K. W., & Mokhtar, M. B. (2009). An Appropriate Institutional Framework towards Integrated Water Resources Management in Pahang River Basin, Malaysia. Water international, 55, 1941-1707. *European Journal of Scientific Research, 27(4), 536-547,*

UNESCO – IHE Institute for water Education. (2014). Towards Integrated Water Resources Mangement. Unesco-ihe.academia.edu

Xie, M. (2006). Integrated Water Resources Management Introduction to principles and practices. World Bank Institute. Tonga-data.sprep.org

Ler, L. Gourbesville, P. (2018). Framework Implementation for Smart Water Management. EPiC Series in Engineering, vol. 3), pp. 1139–1146. https://doi.org/10.29007/gb4g